که غواړئ د سولې او پخلاینې دره
ېرته اوسي، اوربند ټینګ کړئ

# اوربند

ORBAND

دور سوم، شماره هژدهم، ۲۸ اسد، ۱۳۹۸

- د کرښې دوارو غاړو د استقلال جګره
- امان افغان
- د تاریخ یوه پټه پاڼه
- د میوند پر خاوره د میوند زمري پلونه
- د افغان ملکې ثریا له نظره د ښځو مقام...



## د استقلال سلمه کالیزه او د جشن غصب شوې سیمه

اوس د ارګ لخوا په داسې حال کې د استقلال سلمې کالیزې ته درې سوه اتیا میلیونه افغانۍ ځانګړې شوې چې د جشن سیمه زورواکو لاندې کړې، د وزارتو ملکیتونه (ننداړتونونه، کمپونه) د اتیا، سلو کالو په موده همدغو زورواکو او سرکار ته نژدې کړیو په تیکه اخیستې، د خپلې خوښې، مارکیټونه، هټۍ، دفترونه او ودانۍ پې پکې رغولې دي.

ان [illegible] له بهره واردو شویو [illegible] په نامه د جشن [illegible] سلمه لا [illegible] کړې ده.

ثبات او همپالنه



ثبات او همپالنه؛
اد د ټولو قومونو د وصل کړۍ ده

الرحمن لغمانی



او د ښکلا جراحي متخصص

زان قیمت)، ماموریت
بوال مارکیټ
+93 (0) 747777

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوربند

اونيزه

رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَـلَـداً آمِناً

دور سوم شمارهٔ هژدهم، ۲۸ اسد، ۱۳۹۸


## نيوليک


د ميوند پر خاوره د ميوند زمري پلونه/ ۲

د کربښې دواړو غاړو د استقلال جگړه/ ۳

د دارالامان ښار د رغونې مدنيت او حکمت/ ۴

د اماني دوري نوی انځور/ ۵

د خپلواکۍ نمانځنه/ ٦

امان افغان/ ۸

د تاريخ يوه پټه پاڼه/ ۹

تور او سپين صنعت/ ۱۰

د افغان ملکې ثريا له نظره د ښځو مقام/ ۱۱


## اوربند

د تلپاتي سولي لومړی گام
اوربند؛ د ملي جرگې يواځېنی شرط دی
اوربند؛ د روغې جوړې پيلامه ده
اوربند؛ د جگړې مخنيوی دی
اوربند؛ ملي غوښتنه ده
اوربند؛ د هر افغان غږ دی
اوربند؛ د هرې مور هيله ده
اوربند؛ ملي اړتيا ده
اوربند؛ ټيکاو دی
اوربند؛ د سوکالۍ لوری دی
اوربند؛ د بسياينې لار ده
اوربند؛ د پرمختگ اساس دی
اوربند؛ ژوند دی
اوربند؛ له مرگ سره مبارزه ده
اوربند؛ د بربادۍ مخنيوی دی
اوربند ټينگ کړئ، له اوربند سره کېنئ، پر اوربند راټول شئ.

بسم الله الرحمن الرحيم

### سرليکنه

## د استقلال سلمه کاليزه او د جشن غصب شوې سيمه

موږ يوازې د استقلال سلمه کاليزه نه نمانځو، هر کال مو د استقلال کاليزه نمانځلې ده، که واکمن له وېرې له ارگه را وتلی شي که نه، ولس د خپلې ازادۍ ورځ نمانځلې ده. له سرکار يې په زياتو او پرتمينو مراسمو نمانځلې ده.
يو وخت داسې و چې موږ د استقلال، تجارت او پښتونستان په نامه جشنونه لرل چې هر يو په ځانگړيو مراسمو نمانځل کېده، موږ د جشنونو سيمه درلوده، د هر وزارت او ادارې خپل نندارتون او کمپ و، په هر کمپ کې څلور ورځې شپه ورځ د استقلال په وياړ بېلا بېل، فرهنگي او هنري پروگرامونه وړاندې کېدل. پر کنسرتونو او ملي نغمو او ترانو سربېره د تياتر او ډرامو په زړه پورې پروگرامونه او مستند فلمونه ننداري ته وړاندې کېدل، ددغو جشنونو او ملي ورځو په وياړ وار له مخه علمي، ادبي، تاريخي او څېړنيز اثار چمتو کېدل، راډيو ځانگړي پروگرامونه وړاندې کول او چاپي رسنيو فوق العاده گڼې را ايستلې.
د رسم گذشت پر ورځ پر رسمي پرېډ سربېره د ښوونځيو زده‌کوونکيو هم د رسم گذشت خپل مراسم لرل چې پوره مياشت ښوونځيو له درسي ساعتونو وروسته ددغو مراسمو چمتو والی او تابيا نيوله. د رحمان بابا او خوشال خان د ملي اتڼ ځانگړي ټيمونه لرل او د ملي لوبو بېلا بېل پروگرامونه يې وړاندې کول.
ددغو پروگرامونو د تر سراوي لپاره يوه ځانگړې سيمه «د جشن سيمې» په نامه يادېدله، له پامير سينما، ميوند واټ، د نجات تر څلي او عيدگاه تر مخ، پل محمود خان تر ارگ او نادر پښتون واټ کرۍ شپه په ځانگړيو څراغونو لکه ورځ روښانه برېښېدله، د جشن شپو له ورځو زياتې او درنې خوښۍ وړاندې کولې.
اوس د ارگ لخوا په داسې حال کې د استقلال سلمې کاليزې ته درې سوه اتيا ميليونه افغانۍ ځانگړې شوې چې د جشن سيمه زورواکيو لاندې کړې، د وزارتو ملکيتونه (ننداتونونه، کمپونه) د اتيا، سلو کالو په موده همدغو زورواکيو او سرکار ته نژدې کړيو په ټيکه اخيستې، د خپلې خوښې، مارکيټونه، هټۍ، دفترونه او ودانۍ يې پکې رغولې دي.
ان چې له بهره واردو شويو تبليغيانو هم د جوماټ په نامه د جشن پراخه ساحه لاندې کړې ده.
ولس هر کال د استقلال کاليزه نمانځلې، د استقلال جشن يې نيولی، تش لاس ته يې نه دي کتلي، په نشت امکاناتو او تش لاس يې د استقلال جشن نمانځلی. تاسې به گورئ چې ارگ په څلور سوه ميليوني بودجه د استقلال جشن په کومه کچه نمانځي او ولس يې په تش لاس په کومه ښه دروند تلي؟! ...

پاتې ۱۱ مخ




امتياز
افغانستان
چلوونکي
افغانان
خپرندوی
دانش خپرندويه ټولنه



اړيکي
+93 (0) 788042821 - 0700639383

برېښليک
spinsahaar@gmail.com

بيه
۲۰ ؋

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د بریتانیا پر خاوره د میوند زمري پلونه



**د میوند زمری**

د لندن لویدیز په ۴۰ کیلو متری ریډینګ ښارګوټي د فوربري ګارډینز «پارک» وړوکې غونډۍ ته په ختو مخ په بره، پر یوه ډبرلیک کښلي:

«تاریخ، هېواد او واکمنۍ ته د ژمنتیا، اتلولۍ او اخلاص بله داسې بېلګه نشته لکه شپاړسم لښکر چې د ۱۸۸۰ کال د جولای پر اوه ویشتمه د میوند په جګړه کې ښودلې ده.»

یو بل ډبرلیک کې ددغه یادګار یادونه په داسې ټکو شوې:

«دغه یادګار د یوولسو هغو افسرانو او ۳۱۸ وړوکیو ضابطانو او د یارکشایر شپږ شپېتم کنډک د سرتېرو درناوی او د سرښندنو یادونه کوي چې د خپل هېواد لپاره یې په افغان جګړه کې په میوند، ګرشګ او کندهار کې خپل سرونه بایللي دي.

تاریخ او خلک به د ٦٦ کنډک قربانۍ د تل لپاره په نمانځنه او درنښت یاد ساتي.

دغه یادګار په ۱۸۸۴ کال کې جوړ شوی، دوه کاله یې جوړېدن نیولی. د پوځ یوه ملي ترانه د همدغو سرښندنو په درناوي کې را منځته شوې، دوی تر مرګه د بریتانوي واکمنۍ بیرغ هسک او رپانده ساتلی.»

زما مخې ته خپل هېواد و ولس ولاړ و، له سترګو مې د بریتانیا د مادي پرمختګ پردې لرې شوې. خپل هېواد مې سرلوړی او فاتح کوت، ما د انګلیس پر خاوره د خپلې سوبې یادګار کې سترګې ټومبلې وې، دا د وخت د ستر زبرځواک پر خاوره زما د ولس د اتلولۍ هغه تاریخ دی چې په حقیقت کې زما د ولس او هېواد د سرلوړۍ او فتحې یادګار دی، خو پېرنګي ته ګوره چې دغه ماتې یې په څومره مهارت خپله بریا ګرځولې.

ویښ قومونه خپلې ماتې د خپلو سوبو په بنه وړاندې کوي، خپلې ماتې یادې ساتي، پر خپلو ماتو خاورې نه اړوي له خپلو ماتو د بریالیتوب پوړۍ جوړوي.

ما دلته په خپلو سترګو د پېرنګي زبرځواک ماتې ته کتل، هغه څه چې پېرنګي له خپلې ماتې تر لاسه کولی شوای، ما له خپلې سوبې تر لاسه نکړای شول، ما د شوروي په ماته او خپله فتحه کې هم دغسې تیندک وخوړ، د شوروي له ماتې لوېدیځ د خپلې فتحې سندره جوړه کړه، خو زه یې د غمیزو په سمندر لاهو کړم...

**د شهرت ننګیال له ناول څخه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کرښې دواړو غاړو د استقلال جګړه



دا حقیقت دی چې کرښې ولسونه نشي بېلولی، اوبه په ډانګ نه بېلېږي.

ولسونه ګډ دیني اعتقادات، ملي ارزښتونه، کولتوري اړیکې، ګډه ژبه او ملي نوامیس یو له بل سره پېيي، دغه پېلیتا داسې مزبوت غوټه شوې وي چې موقتي او تپلې کرښې، سیاستونه او ښکېلاکي وېش یې حقیقت او ملي هویت نشي بدلولی.

وزیرستان که هر څو له انتظامي اړخه پیرنګي د ډیورنډ په چاړه له لوی افغانستان بېل کړ، خو د کرښې دواړو غاړو ولسونه یې له یو بل جلا نکړای شول، دغه ولسونه همېشه په غم او ښادي کې د یو بل څنګ ته درېدلی او د پردیو پر ضد یې ګډه مبارزه کړې.

کله د وزیرستان مېړنیو قومونو له کرښې بلې غاړې پښتو په ننګه او ملاتړ خپله توره له تیکې ایستلي او کله دې خوا ځدرانو، تڼیو، ګربزو او د لویې پکتیا ولسونو د خپلو وزیرستاني عزیزانو مټ غښتلی کړی دی. دا زموږ خبره نه ده، د تاریخ اټل حقیقت دی، زموږ د ملي یووالي، قومي همغږي او دیني پیوستون دغه حقیقت د تاریخ په پاڼو کې خوندي دی.

د مغلو په خلاف د پیر روښان له ملي مبارزې وروسته د پیرنګي ضد مبارزې او د جهاد په لړ کې د ملا پوونده، ملاحمزه، او ایپي فقیر په ملاتړ د لویې پکتیا ولسونو د وزیرستان له آزادي غوښتونکو سره څنګ په څنګ د غزا غلبلو ته اوږه ورکړې.

تاریخ راښیي چې دد ۱۹۱٤ د نومبر په ۲۸ مه د ځدرانو، تڼیو، خوستوالو او ګربزو یو ستر دوولس سوه کسیزه لښکر د ډنډې په دردانې کې د غزا له ډولونو سره د پیرنګي پر تاڼو او څوکیو د برید لپاره راټول شول. غازیانو په هماغه لومړیو کې د تیلیفون او تلګراف مزي پرې کړل، د لیوني ملنګ او سالم پش په مشرۍ یې د پیرنګي په څواکونو ور ترپلل.

پیرنیګی له کلا دننه مقابله کوله، د راوتو مخه یې نشوای موندلی، غازیان چې له لومړي برید وروسته نږدې غرونو ته ختلي وو، پرېکړه وکړه چې د شپې پر کمپ برید وکړي، خو پېرنګي وار وړومبی کړ له دریو خواوو یې غازیان تر برید لاندې ونیول. پېرنګی خپله درې اړخیزه حمله داسې تنظیم کړې وه چې لفټننټ پرینډر د درپه په خپلو له کلي، کپتان جوتم د میرانشا سرای له استقامته او میجر بی سکاټ د همزونی له شنې خوړ (الګړجي) پرې راوګرځېد، سخت جنګ ونښت، غازیان که څه هم ناڅاپي او نابره له بریده سره مخامخ شوي وو، خو پخپل مېړني مقاومت یې پیرنګي پوځ په شا وتمباوه. (۸۱) پیرنګي عسکر یې ترې ووژل، له غازیانو (۱۸) تنه شهیدان شول. له دغه جګړې وروسته د ځدرانو، تڼیو، ګربزو او خوستوالو لښکر پرېکړه وکړه چې دا ځل د شپانه خیسارې پر کلا برید وکړئ، ملک مادي خان مداخیل ته یې په دې اړه لیک واستاوه، خو له بده بخته لیک ده ته له برید وروسته ورسید.

په لیک کې راغلي:

له سلام وروسته،

«تاسې ته دې معلومه وي چې د ځدرانو، تڼیو، او خوستوالو لوی لښکر راغونډ شوی دی، د دغه لیک په در رسېدو، تاسې هم باید له ځنډ پرته خپل لښکر راغونډ کړی په پیرنګیانو چې اوس بیخي کمزوري شوي برید وکړئ او ویې شړئ. انشاءالله اوس د خارجیانو د ورکېدو ورځې دي، جرمن پادشا هم پر انګرېزانو بریدونه سخت کړي، له تاسې زموږ غوښتنه ده چې د پیرنګي پر خلاف را پورته شي. له بنوڅو، خټکو، مروتو او اپریدو هم خبر راغلی چې په یوه خوله جهاد ته تیار دي.

د ځدرانو، تڼیو او خوستوالو لس زره کسیزه لښکر د مزدک غره په مخه کې د اوژګي او رنګوټي پر لار په تادیبي الګډرا لوېدلی و، د ډولونو په وهلو یې د خیساری کلا، چاپېر مورچې نیولې وې وزیر او دوړ هم ورسره مل شوي وو.

د ۱۹۱۵ د جنوري پر اوومه یې پر کلا برید وکړ، له میرانشا کپتان جوتم له خپلو ځواکونو سره د خیسارې کلا د ملیشې ملاتړ ته حرکت وکړ. له دې سره جګړه نوره هم سخته شوه، د پیرنګي له پوځ د کپتان جوتم په ګډون چې یوه ځدراڼ غازي په نښه کړی و (۳۷۰) برتانوي عسکر ووژل شول، غازیانو بېشمېره آسان، قچری، ټوپک، مهمات او نور توکي په غنیمت ونیول، له غازیانو ۸ تنه دغه جګړه کې شهیدان شول.

د یاد کال د مارچ پر ۲۳ مه د ځدرانو، منګلو، تڼیو او خوستوالو یو ستر لښکر د ګربزو د لا لیژی او پیاوشاخوړ تر منځ موقیعت ونیو، لښکر د مارچ پر ۲٤ مه د میرانشا شمال ته پر شګی میله کې راغونډ شو. د لښکر مشري غلام خان ځدراڼ، شاحسین، لیونی ملنګ، ملا محی الدین ایکړ، سالم پش، الله ګل ځدراڼ، تورګل تڼی، عالم خان تڼی، طوطي میزایي، ګلوم دین تڼی او ملک خابي خیل کوله.

لښکر په ټوپکو، تورو، نیزو، او کوتکو سمبال و، ځینې تش لاسي هم وو. د اوړو، وریژو، ګوډې یې ورسره اخیستې وو، له هر قام سره خپل بیرغ و، چې کلمه شریفه پرې لیکل شوې وه، د لښکر ډېری ځدراڼ وو، د منګلو لښکر هم ورسره یوځای شو.

پیرنګی د جنرال فین تر قوماندې لاندې خپل پوځ راټول کړ. د مارچ په ۲٦ مه پیرنګی پوځ پر غازیانو هغه مهال د ټوپونو او درنو ماشینګنو حمله وکړه چې دوی خوبولي وو، له دې سره غازیانو داسې مقابل ورسره وکړه چې د سکنډ لفیټننټ جان ویل او لفیټننټ ګریج په ګډون (۵۷۸) تنه ګوره پوځیان او ملیشه ووژل شول. او (۲۵۰) یې زخیمان شول. له غازیانو (۲۰۰) تنه شهیدان او (۳۰۰) ټپیان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دار الامان ښار د رغونې مدنيت او حکمت

**چهاردهي ښار ته نږدې پراخه سيمه ده، اميرعبدالرحمن خان دا ځای د پلازمېنې لپاره ډېر مناسب بللی و او په ډېر حسرت يې ويلي وو، کاش کابل دلته وای! کوم پېټی چې دومره نوميالي او زړه‌ور پاچا پورته نکړ، د هغه د کورنۍ بل کس هغه کار (ډېر ښه پيل) کړ او تر نيمايي يې ورساوه.**

ليکوال: محمد حسين خان
ژباړن ياد

د لندن په خلکو چې وبا راغله، نو طبيبان يې په مخنيوي کې پاتې راغلل، ځکه د ښار ودانۍ داسې جوړې شوې وې چې له کوڅو يې چټلې اوبه بهر نه وتلې. دلته را ټوله شوې چټلې او تعفن د ناروغيو اصلي لامل و. انسان چې بېوسه شو، نو خدای خپل قدرت وکاراوه، اور ولگېده او ټول ښار وسوځېده، ښار سوځېدو دا گټه وکړه چې دويم ځل يې ودانۍ او آبادي د روغتيايي قوانينو په نظر کې نيولو سره جوړې شوې.
په کابل کې به هم هر دويم او درېيم کال وژونکې وباگانې راتللې. اعليحضرت ددې ستونزې د حل لپاره له پغمانه د پاکو اوبو نلونه را تېر کړل، د خوراکي توکيو په دوکانونو يې روغتيايي څارنه پيل کړه او په کوڅو کې يې د چټلو اوبو وتلو لپاره ويالې ووېستلې. په ورپسې کال چې وبا راغله، نو ځينو خلکو به ويل، هغه پخواني برکتونه نه دي پاتې، بل خوب چې نه و، نو ويل يې، ان په وباگانو کې هم پخواني برکت نه دی پاتې. پخوا به يې هره ورځ سل يو نيم سل تنه وژل او اوس چې لس پينځلس ناروغان شي، په هغه کې څو بېرته رغېږي. دا به د هغه پخواني فکر لرونکيو خلکو په اړه ويل کېدل چې په هر پخواني شي کې به يې تقدس ليده او د نويو شيانو سپکاوی به يې کاوه. مثلاً ويل به يې، غله گرانه شوې ده، خو په مقابل کې به يې د پيسو ارزښت کمېدو ته نه کتل. داسې خلک هر ځای کې د نوښت او اصلاحاتو مخالف وي. وَمَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّنَ ٱلرَّحْمَٰنِ مُحْدَثٍ إِلَّا كَانُواْ عَنْهُ مُعْرِضِينَ (الشعراء - ۵)
(ژباړه: کوم نوی شی چې وي، که هر څومره گټور وي، دوی ترې مخ اړوي.)
اعليحضرت غازي د کابل په شمول ټولو ښارونو کې ښاروالۍ (مجالس بلديه) را منځته کړې. پلازمېنه کې چې لومړی مجلس وشو، نو خپله شاهانه ذات پکې گډون درلود او په هره موضوع کې يې د يوه عادي وگړي په توگه برخه واخيسته، خلکو ته يې دا نمونه وښودله چې هر څوک بايد د عمومي رفاه لپاره څنگه بحث وکړي. په گډونوالو کې به چې چا اعليحضرت ته شاهانه خطاب وکړ، نو ده به منع کاوه او ورته ويل به يې، زه د ولس د عام وگړي په توگه راغلی يم. له هغې وروسته به بيا شاه ته په خبرو کې د لومړي کس (فردِ اول) په نوم اشاره کېده.
د ښاروالۍ په وسيله چې د حفظ الصحي، پاکوالي او نور کارونه وشول (بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَ رَبٌّ غَفُورٌ)، ناروغۍ ورسره کمې شوې او اته کاله بيا وبا را ونه گرځېده. خو پخوانۍ ودانۍ داسې جوړې شوې دي چې هېڅ‌ډول ټول روغتيايي اُصول پکې نشي عملي کېدای او ځينې نورې ناروغۍ کله کله سر را پورته کوي، نو مخکې له دې چې دلته هم د لندن په څېر آفت نازل شي، اعليحضرت د نوي ښار بنسټ کېښود. ددې ښار د بنسټ اېښودنې په مراسمو کې د دولت او ملت ستر ارکان او سفيران ټول حاضر وو. دلته اعليحضرت يوه فصيحه او بليغه وينا وکړه او ددې ښار اړتيا يې په دلايلو ثابته کړه. شاه په لوړ ځای کې ودرېد او ويې ويل، زموږ د هېواد بخت ښه دی چې له آفتونو او مصيبتونو راته لږ ضرر را رسېږي او په لږ زيار ډېر پرمختگ کېدلی شي. دلته يې بيا شاهي خُطبه او امانيه سيکې د زرگونه کاله وروسته عتيقه کيندنو لپاره د دارالامان په تهدابونو کې کېښودلې.
د شاهانه ذات ټول کارونه په پراخه پيمانه وي. په کندهار او نورو ځايونو کې هم د نويو ښارونو بنسټونه اېښودل شوي دي او د کابل دارالامان هم له ښاره پينځه ميله (اته کيلو ميټره) لرې دی. هيله ده چې ورو ورو به دواړه سره وصل شي. اوس د دواړو تر منځ د ښلا ښل نقل و حرکت لپاره پراخه پوخ سړک جوړ شوی او ډېرې زياتې دولتي ودانۍ په ډېره ښايسته بڼه رغول شوې دي. د حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library




ستره مانۍ چې په پوه لوړ ځای جوړه شوې، تقریباً په بشپړېدو ده. پخپله همایوني ذات چې ماښام هواخوري ته ځي، الماني مهندسینو ته لارښوونه کوي او هغه ودانۍ او باغونه ویني چې میلونه اوږدوالی لري.
د بغداد پخوانی ښار چې عباسي خلیفه ته مناسب ښکاره نشو، نو د طبیبانو په مشوره یې د ښار ګردچاپېره سیمو کې غوښې را ځوړندې کړې، په کوم ځای کې چې را ځړول شوې غوښه خوسا نشوه، هلته یې اوسنی بغداد جوړ کړ.
کتاب: افغان پاچا



# د اماني دورې نوې انځور

**وحید عمر**

د اماني دورې په اړه به ډېر آثار لیکل شوي او خپاره شوي وي، خو تر ډېره به هغه ستونزه په کې وي چې زموږ ټول تاریخ ورسره مخ دی او دا ستونزه څه ده؟ ستونزه دا ده چې زموږ زیاتره تاریخونه یوازې د پېښلیکونو بڼه لري، یعنې په یوه مشخصه دوره کې شوې پېښې یې په ترتیب سره راخیستې او ثبت کړې وي، په داسې تاریخونو کې د ټولنو لوی سیاسي تحولات وي، خو د واکمنو د دورې او ولس عمومي معلومات او انځور پکې نه وي، همدا لامل دی چې زموږ تاریخ ډېرو لوستونکیو ته په زړه پورې نه وي.
داسې تاریخ موږ ته دقیقې نېټې راکوي، خو په هغو دورو کې د واکمنو او ولس ذهني تمایلات، په ولس کې روان کلتوري، ولسي او ټولنیز جریانونه راته نه ښیي او موږ چې دا تاریخونه لولو، نو دا معلومات ترې نشو کولای چې هغه وخت په ولس کې لوی ارزښتونه څه وو او له څینو پدیدو د دوی درک او په مقابل کې یې غبرګون څنګه و.
کله چې تاریخ دا ځانګړنې ونه لري، نو یوازې وچې نېټې پاتې کېږي چې دا له یوې خوا په زړه پورې نه وي او له بلې خوا لوستونکي ته د تېر وخت په اړه غني تصویر او تصور نشي ورکولای، له دې امله بیا د داسې تاریخونو په لوستو، هغه درس او سبق نه اخیستل کېږي چې نور ولسونه یې له خپل تاریخه اخلي او بیاخلې د تاریخ تکرار ته نه مجبورېږي.
«افغان پاچا» کتاب چې ما ولوست، نو زموږ د تاریخ له کتابونو راته بېخي جلا ښکاره شو، ځکه دا یوازې د یوې پاچاهۍ پېښلیک نه دی، بلکې د هغه پاچا د شخصیت، چلند، ذهني تمایلاتو، مفکورې، پلانونو، شخصي ژوند او له ولس او ټولنې د هغه د درک او غبرګون یوه بشپړه تابلو ده.
زه هیله من یم چې دا کتاب به افغان ولس ته د غازي امان الله خان په اړه نسبتاً بشپړ او تر پخوا جامع تصویر وړاندې کړي او په ولس کې چې د غازي د ژوند، فکر، کړو وړو او خصوصاً اصلاحاتو په اړه کوم سوء تفاهمونه را منځته شوي، د هغو په حل کولو کې به مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپلواکۍ نمانځنه

حفیظ الله تراب

**د فېسبوک کیسه ده چې یوه کس ویل، خبر شوم چې په سوېډن کې مور سره په یوې فابریکې کې داسې یو ځوک مزدوري کوي چې ورور یې د یوه هېواد ولسمشر دی. ددې حیرانوونکي خبر اورېدو مې تلوسه دومره ډېره کړه چې بله ورځ مې سړی پیدا کړ، پوښتنه مې تري وکړه چې آیا رښتیا هم ستاسې ورور ولسمشر دی؟**

ورور ولسمشر دی؟
هغه وویل:
- هو! دا خبره سمه ده، زما ورور د ایریتیریا هېواد جمهور رئیس دی.
د سړي ځواب هک پک کړم او په حیرانۍ مې ورته وویل:
- ستا ورور دومره لوی سړی دی او ته بیا هم په دې فابریکه کې دومره سخته مزدوري کوې؟
هغه وویل:
- زه یوازې ځان ته نه، د هغه د ماشومانو لپاره هم مزدوري کوم. د ورور کورنۍ مې لویه ده، پخپل معاش یې گوزاره نه کېږي، ځکه نو اته ساعته د ځان او اته ساعته هم د خپل ورور لپاره کار کوم او له دې ځایه پیسې ورلېږم.
زما حیراني نوره هم ډېره شوه، غلی وم چې هغه بیا راته وویل:
- زموږ یو ډېر غریب هېواد دی، خو د خپل هېواد عزت پر موږ ډېر گران دی. د نړۍ ډېرو هېوادونو موږ ته غوښتي چې مرستې یې ومنو، خو موږ کله هم دا کار نه کوو، نه غواړو چې د خپل هېواد سر چاته په خیرات ټیټ کړو.
له پورته کیسې نه مې موخه دا وه چې د ملي غرور لرل، د ارزښتونو پالل او په نړۍ کې په هسکه غړۍ ژوند کول، د ویښو او خپلواکو ملتونو ځانگړنه ده.
ددې ډول ارزښتونو د پاللو یو اتل موږ هم درلود، داسې اتل چې په هغه وخت کې د نړۍ لویو هېوادونو په رښتینې د خپلواکۍ اتل باله.
غازي امان الله خان، هغه ځوک چې د خپل حکومت په لومړۍ ورځ یې د انگلستان سفیر را وغوښت، لیک یې ورکړ او ورته یې وویل:
- «له دې وروسته افغانستان یو خپلواک هېواد دی. که تاسې زموږ خپلواکي ونه منئ، نو زموږ او ستاسې خبره به دا توره فیصله کوي».
انگرېز انکار وکړ، هغه په زړو ټوپکو او تورو خلک وسله‌وال کړل او په نشتو امکاناتو یې د استقلال جگړه پیل کړه.
رښتیا چې هوډ پیاوړی او نیت پاک وي، نو بری دې پخپله هرکلی کوي. تر لنډ جنگ وروسته انگلیس ماتې وخوړه او په لومړي ځل یې د یوه هېواد خپلواکي ومنله.
غازي امان الله خان نه یوازې د خپلواکۍ مېړنی و، بلکې د هېواد د پرمختگ او د خلکو له سوکالۍ سره یې لېونۍ مینه لرله. هغه غوښتل چې په لنډ وخت کې افغانان د سوکاله ژوند خاوندان کړي. د لومړي ځل لپاره یې قانون جوړ کړ، ښوونځیو، تخنیک او د ژوندانه نورو برخو ته یې ډېره پاملرنه وکړه. پاکي او سپېڅلتیا خو یې دومره وه چې له اروپا نه تر راتگ وروسته یې د خپل سفر د مالي لگښت ټول راپور ملت ته ورکړ او دا یې هم څرگنده کړه چې دومره لاسته راوړنې لري.
هغه ډالۍ چې په اروپا کې خلکو ورکړې وې، تر لسو ډېرې موټرې پرې ډکې شوې. د درناوي او عزت خو یې دا حال و چې د فرانسې د هغه وخت ولسمشر د شپې د ناپیلیون په چپرکټ کې ویده کړ او د پاریس د ښار کیلي یې ورکړه. هغه د افغانستان نوم په نړۍ کې تر لمر هم ځلانده کړ.
د هغه ستر ارمان دا و چې هېوادوال یې د غارونو له ژوند نه را ووځي او له تمدن سره اشنا شي. هغه د نړۍ نورو هېوادونو ته د خپلواکۍ روحیه ورکړه. که د هغه مېړانه او جرئت نه وای، کېدای شو چې زموږ گاونډیو هېوادونو لا تر اوسه د غلامۍ زهر څکلای. همدا باتور و چې غلامو ملتونو ته یې د خپلواکۍ ساه ورکړه.
دا چې د نړۍ ډېر هېوادونه خپل مصنوعي اتلان نمانځي، نو پر موږ خو فرض ده چې د خپل رښتیني اتل کارنامې ونمانځو. پکار ده چې د خپلواکۍ پر ورځ د هغو ټولو شهیدانو روحونو ته درودونه ووایو چې د غازي امان الله خان په مشرۍ یې خپل سرونه د هېواد لپاره قرباني کړي. پکار ده چې د خپلې دغې تاریخي ورځې په ویاړ خپل مسوولیت ادا کړو. د همدغو ارزښتونو پالل کولای شي چې زموږ د ازادۍ روحیه پیاوړې او موږ د اوسني استعمار له منگولو وژغوري.
ژوندي دې وي د هېواد د خپلواکۍ د لارې اتلان
تلپاتې دې وي، د خپلواکۍ د شهیدانو نومونه او کارنامې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



# امان افغان

مصطفی عمرزی

**«ملت عزیز و باوفای من!
به مناسبت ختم سفر چندماهه ی من و اجراآتی که برای ترقیات شما شده بود و برای بازپرسی احوالات شما فرزندان عزیز، لازم دیدیم که از هر اکناف مملکت، وکلای شما را احضار کرده، لوی جرگه را منعقد و امورات آتیه ی دولت را تحت نظر دقت گرفته، به استشاره و استصواب وکلای ملت عزیز خود، قرار های نافع و لازمه را برای آرامی و رفاه ملت و ترقی وطن محبوب خود بدهیم و به این وسیله اشتیاق قلبی خود مان را که به دیدار شما اولاد های دلاور خود داشتیم تسکین نماییم. اینک تمام وکلای شما رسیدند و از دیدار خود شان فرحت بی اندازه ی قلبی به من بخشیدند.**

فرزندان عزیز!
امروز بحمدالله ما دوره ی ترقیات ابتداییه ی ده ساله ی خود را با کمال کامیابی طی کردیم. من از اطاعت و فداکاری شما، از جهد و هم آهنگی شما، از غیرت و همت شما، از صمیم دل رضایت و مسرت دارم. ما امروز در صحنه ی مبارزه ی سعی و عمل دوره ی دوم ترقیات مملکت، داخل شده ایم. ما باید با دل و دماغ قوی و با تحمل و شکیبایی که مخصوص فطرت افغانان شجاع است، از همه گونه زحماتی که در راه ترقیات وطن مقدس افغان پیش آید، پذیرایی کنیم.
طوری که به شما مبرهن شده، من ابداً از خدمات ملت عزیز خود خسته نمی شوم. عشق قلبی من، آرمان و آرزوی یگانه ی من، حاصل حیات و زنده گانی من، فقط تعالی ملت محبوب و وطن مقدس من است. در این راه، عزم من متزلزل نمی شود، ولو با هر قدر مشکلات دچار شوم، هیچ گونه مدح و ثنا، هیچ قسم لوم و توبیخ، اثری به من نمی کند و مرا از فکر ترقیات و سربلندی شما باز داشته نمی تواند.
پس نظر به عزم راسخ و قوت قلبی که برای خدمات و ترقیات شما در خود مشاهده می کنم و نسبت به اعتماد و شوقی که بر وفاداری و مردانه گی و وطن دوستی و صداقت شما اولادان غیور خود دارم، بعون الله تعالی تکیه کرده به شما اطمینان می دهم که: با مظفریت فوق العاده و ترقیات درخشان، دوره ی دوم مساعی خود را خاتمه خواهیم داد و یک بار دیگر ثابت خواهیم نمود که: نژاد پُر افتخار افغان بر هرگونه عایق و حایلی که سد باب ترقیات افغانستان شدن بخواهد، غالب می شود.» (جزوه ی به ملت عزیزم، تمهید شاه امان الله در تدویر لویه جرگه ی سال 1929)
این تمهید، جهت تدویر جرگه ای بود که امان افغان، پس از بازگشت از سفر طولانی خارج از کشور، خطاب به مردم، ارائه کرده است. تداعی شخصیت شاه امان الله، همیشه با انگیزش حس عاطفی ما توام است. در نوع ادبیات خاص او، محبت سرشار به مردم، وطن و آروزی قلبی پیشرفت و رفاه، هنوز هم به افغان ها انگیزه می بخشند که عقب نروند.
نود سال پس از سقوط امانی، اما هرچه از مفاهیم حُریت سیاسی، جهش مدنی و رو به جلو معاصر طرح می شوند، به گونه ای تکرار خوش برداشت هایی اند که در سلطنت اعلی حضرت شاه امان الله شکل گرفتند. این گونه، هرچند در بستر مبارزات طولانی مردم ما از 5 سده بدین سو، گذشته دارد، اما نوع عصری (مدرن) به تعمیم ذهنیت هایی انجامید که می شود گفت مقطعه ی امانی، افغانستان را به جلوی رهنمون شد که سال ها بعد، پس از توحش سیاسی هشت ثور، انحصارات ملایان و تهدیدات بنیادگرایی مذهبی نیز اما فاصله گرفتن از تحجر و سنت زده گی های غیر تعریف شده، آرزوی قلبی هر افغان است.
در روز های مناسبتی که گاه تکرار خواسته های سیاسی، اصل قضیه را ملال می کند، اکثراً از شاه امان الله و 28 اسد(شکستن حصار و تحقیر استعمار) در جنبه هایی که در رژیم های مختلف، به تبع ایدیالوژی ها برجسته می شدند و این رویکرد به سنت جناح هایی مبدل شده است که هریک به میل خویش، شخصیت و سلطنت شاه امان الله را بازخوانی می کنند، یاد می شود.
باری باز برای ارج و ارجحیت شخصیت و سلطنت شاه امان الله، اما با رویکرد تجدد تاریخی، به یک بازخوانی دیگر، رو می کنم تا ثبات پایه های تاریخی جهش مدنی و سیاسی ما در تبلور شخصیت امان افغان، تبیین کند: همیشه خوانی تاریخ و باور های شاه امان الله، چه قدر به نفس آمال رفاه و داعیه ی مدنی مردم ما مرتبط است. این مثال (شاه امان الله) نماد تاریخی آن جهش سیاسی و مدنی ست که با دست آویز آن نیز به خواسته ها و اولویت های مدنی، سیاسی و اساسی خود می پردازیم.
مرحوم لودویک آدمک، رنسانس فرهنگی و رسانه یی معاصر افغانستان را بدون علامه طرزی، ناممکن می خواند. به مصداق این برداشت، خوانش زمینه ی سیاسی، مدنی و رفاهی افغان ها بدون شاه امان الله، اگر ناممکن نباشد، ناقص است.
ارزش سیاسی، اجتماعی و فرهنگی یک شهزاده در جنبش مشروطیت:
اعلی حضرت شاه امان الله در دامان پدر و مادری رشد یافت که به تعبیر کنونی، شخصیت های اول افغانستان شمرده می شدند. میراث تاریخی اعلی حضرت امیر عبدالرحمن، زمینه ی سیاسی اعلی حضرت شهید حبیب الله خان را ثبات بخشیده بود. پدر شاه امان الله در زمینه ای که خود مبتکر بسیاری از عناصر مدنی، فرهنگی و رسانه یی آن بود، در روشنگری هایی که به راحتی وارد حیات خلوت سلطنت می شدند، به گونه ای باعث شده بود(جلب توجه) تا امان الله از این طریق نیز عضو جنبش مشروطیت شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

می شود گفت طرح های انکشافی، عمرانی و رسانه یی اعلی حضرت امیر حبیب الله خان، به اندازه ای خوب بودند که هرچند تعمیم آن ها به توطئه ی ترور خودش انجامید، اما آن مرد معزز، مسوولیت های وجدانی و میهنی اش را فراموش نکرد.
رسمیت معارف عصری و علاقه ی مفرط شاه به عمران و فرهنگ، به خصوص کتاب، بدون شک بر روش ها و علایقی اثر گذشتند که بعداً در سلطنت امانی، به جهش عظیم رو به جلو مدنی و رفاهی مبدل شدند؛ یعنی زمینه های از قبل فراهم شده، امان افغان را به فعال ترین عضو جنبش مشروطیت، مبدل کردند.
سلطنت شاه امان الله را می توان بزرگ ترین دست آورد جنبش مشروطیت افغانستان دانست؛ تحرکی که مایل بود کشور ما به توسعه ی عمرانی، انکشافی و اقتصادی رو آورد.
سلنطت یک عضو فعال جنبش مشروطیت:
تعمیم مفاهیم مدرن فرهنگی، رسانه یی و مدنی در مقاطعی که باعث تغییر و تحول بنیادین شده اند، در نمونه های تاریخی در کشور های اسلامی، در ترکیه با مصطفی کمال آتاترک، در ایران با رضا خان پهلوی، در کشور های آسیای میانه به وسیله ی اتحاد شوروی و در سایر نقاط با تسریع خیزش های ناسیونالیستی و سوسیالیستی نیز صورت پذیرفته اند. در نمونه های دیکتاتورشیپ، شخصیت هایی مانند صدام حسین در عراق و معمرالقذافی در لیبیا، بدون اعلام باور های بسیار مقید چپی و راستی، مردم را از مزایای رویکرد رو به جلو دولتی، مستفید کرده اند. در افغانستان، گرایشٍ های یک شهزاده به رفاه اجتماعی که بعداً در کسوت شخص اول مملکت ظاهر شد، موهبت هایی بودند که مردم ما به آن رسیده اند؛ هرچند زمینه های آن ها حتی در زمانی که جمال الدین افغان در دربار شاهان افغانستان، ریفورم می داد، گذشته دارد، اما در سلطنت امانی به مشی اساسی دولت تبدیل می شوند.
قرار گرفتن جنبش مشروطیت در راس قدرت که با شاه امان الله تمثیل می شد، به تسریع روندی انجامید که پس از سقوط امانی نیز تغییر در همه عرصه ها، وقتی آن تاریخ را بازخوانی می کنیم، اساس بسیاری از حرکات مدنی، فرهنگی و رسانه یی کنونی است.
تمثیل خواسته های جنبش ملی مشروطیت افغانان ها که از تمام اقوام عضو داشت، سلطنت امانی را به سمبول تاریخی ما مبدل کرده است. مزیت سلطنت یک عضو فعال جنبش مشروطیت باعث شد، طرح های کلان تحول، هرچند بسیاری تطبیق نیافتند، اما به آمالی مبدل شوند که در حاکمیت های بعدی، جزو جداناپذیر مشی دولت ها جهت تغییر مثبت، انکشاف و خدمات عامه باشند.
نقش تاریخی اعلی حضرت شاه امان الله، تنها منحصر به افغان جسوری نیست که استعمار را تحقیر کرد و به مردم رو آورد. مفاهیم مدنی، فرهنگی و رسانه یی تعمیم یافته در سلطنت او، افغانستان را از گذشته ای سوا کردند که در باور های عامه ی مردم، خوانش یک سویه ی باور ها، باوجود مفاهیم عصری حاکمیت، فرهنگ و رسانه که از سلطنت مرحوم امیر شیر علی خان قوام یافتند و در تمام حاکمیت های امیر عبدالرحمن خان و حبیب الله خان، هرچند با رعایت بیش از حد دینیات، اما تقویت می یافتند، جامعه را بی موازنه ساخته بود.
تعمیم ذهنیت های ارزش نقش زنان و دختران افغان، فرهنگ و سیاست نو، نظام های دیموکراتیک که با شورا حمایت می شوند و آن چه از بازخوانی قابل وصف جهش مدنی زمان شاه امان الله می دانیم، ارزش حضور تاریخی او را در مقطعه ای که باید ابراز وجود می کرد، مهم می سازند.
نود سال پس از «تراژیدی سقوط امانی»، اما اکثر مفاهیم انسانی آزادی های فردی، کار رسانه یی، فعالیت فرهنگی و احترام به حضور زنان، با تداعی شخصیت و سلطنت شاه امان الله، نوستالژیک می شوند. بنابر این، یادمان او، نه فقط تکرار خوش تکرار جدید سیاسی افغانستان است، بل همواره باعث می شود با جان کلام آن، به اولویت ها و آرمان هایی ارج بگذاریم که امروزه نیاز های اساسی افغانان به خاطر رسیدن به زنده گی آرام، مرفه، با وقار و با عزت می باشد.

# د تاریخ یوه پټه پاڼه

کله چې خوست کې د سپه سالار محمد نادرخان او ببرک خان ځدران په مشرۍ پوځي او ملي لښکر خپل سوقیات بشپړ کړل- له کرښې اخوا په ټوچي تاڼه کې هم د پاڅون هنګامه پورته شوه، ډېرى ځايي سپاهيانو تاڼې پرېښې وې، پيرنګي د مې پر 25 مه د ټوچي ټولي څوکۍ پرېښې وې، د څوکيو وسايل، مليشې او عسکر يې سپين وام ته لېږدولي وو. دوی غوښتل د عيدکو په لور سپين وام کلا هم پرېږدي، ځکه خو يې خوراکي او لوژستکي توکي وسوځول، خو د سپه سالار نادرخان لښکر پسې ورسيد او پر سپين وام کلا يې د ازادۍ جنډه لکه کړه. د مليشې يو ضابط پات خان له پنځلسو سپاهيانو سره د غازيانو اړخ ونيو، د جنرال نادرخان د پوځي لښکر تر څنګ د ځدرانو، ځاځيو، منګلو، وزيرو، ميسدو دوړو ملي لښکرې هم ملي وې. د وزيرو مسيدو د لښکر ډېرى ځوانان هغه سپاهيان وو چې د غازيانو اړخ ته وراوښتی وو. د 1919 د مې په 25 مه له دته خېلو، شپانه خيسارۍ، توت نري او بويه له چونيو او کلاګانو پرنګيان ووتل. سپاهيان وار په وار ياغي کېدل او پخپلو چونيو بريدونو ته ورګرځېدل. له پوستو، چونيو او څوکيو تښتېدلي سپايان او مليشه د ميرانشا کلا شاوخوا راټول شوي وو، د دوړو،وزيرو سپايان هم له پاڅونوالو سره مله او د پيرنګي پر تاسيساتو يې په ور تر پللو د ټوچي کلا سوځولې وه. اپريدو سپايانو د ځايې هغو «وزيرو دوړو» پاڅون ته په کتو په ګوره پوځيانو وربانديې کړې وه. د ميرانشا له کلا هم سپايان له کمپ په راوتلو له غازيانو سره يو ځای شوي وو، د ټوچي پوليټيکل ايجنټ ميجر ارګريټ ته چې د ميرانشا کلا په جاج اخيستو د وزيرو، مسيدو ځوانانو د نبض تودوخه ښکاره شوه، د شمالي وزيرستان عمومي قوماندانۍ ته يې وړانديز وکړ، چې د وزيرو دوړو ځايي سپايان له کلا وباسي او د کلا واک سيک او هندو سپايانو ته وسپاري.
په ډنډه کې غازيانو د ډولونو انګازې د ميرانشا کلا ته رسېدلې، د وزيرو دوړو سپايانو له ايستلو وړاندې پاڅون وکړ او د جمعه دار ترين خان پر مشرۍ يې په يمانه وسله ولجه او د الله اکبر په نارو له سک او ډوګره پوځيانو سره جګړه پيل کړه، پاڅونوالو د کلا دېوال سورى او له وسلو سره د باندې راووتل، ګورې چې زرګونه غازيانو له کلا د باندې مورچې نيولې دي. د ميرانشا کلا د مې تر 30 مې کلايندوه، له کلا د باندې د جنرال اوکاس د پوځيانو او غازيانو تر منځ نښته روانه وه، په دغو جګړو کې له غازيانو 36 تنه شهيدان او 61 تنه ژوبل شول، د پيرنګي له پوځونو 275 تنو خپل سرونه خوړلي وو.
د شمالي وزيرستان له څوکيو او پوستو د وزيرو دوړو سپايان راووتل د ميرانشا لمر خاته ته د پيرنګي له شپږ و کلا ګانو د مې تر 27 مې ايله دوې کلا وې (عيدکو- او ريشيا پوسټ) له پيرنګي سره پاتې وې، يوه ورځ وړاندې د مې په 26 مه د شينکۍ پوستې سپايان، سيدګی پوستې ته له دې ويرې تښتېدلي و چې جنرال نادرخان ښايي له سپين وام دې پلو مخه کړي.
پر همغه نېټه د کجورې له کلا هم سپايانو سيدګي ته په تېښته پښې سپکې کړې وې، سپه سالار نادرخان چې د مې پر 23 مه ټل کلا نيولې وه، د جون په 5 مه د جنرال ار ايچ ډاير په مشرى د پيرنګي پوځ له کوهاټ چونې د ټل په استقامت سوقيات پيل کړل. جنرال ډاير له سپه سالار نادرخان په څنګ د ټل لوېديز کې د ببرک خان ځدران په ځلور زره کسيز لښکر بريد وکړه سخت جنګ ونښت، ګوره پوځيانو ته د سرو مال درانه زيانونه واوښتل.
د هندوايسرای اعليحضرت غازي امان الله خان ته د خبرو او متارکې بلنه ورکړه او هغه خپلو جنرالانو ته د ډز بندی امر وکړ.
که حکومت په دغه استقامت د غازيانو پر مختګونه او سوبو ته په کتو نورو استقامتونو کې د ستراتېژۍ او تاکتيک اړوند نوښت پامور بللى واى ښايي افغانستان خپلو طبيعي سرحدونو ته رسېدلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تور او سپین صنعت

**اروابناد استاد عبدالجلیل وجدي**

په تېر پسې...

**سراج الاخبار افغانستان:**

مولوي عبدالروف خاکي له خپل پلار مولوي عبدالرحیم څخه زده کړې وکړې چې د امیر شېر علي خان د حضور ملا او د هغه د زوی او ولیعهد او ښوونکی هم و.

د خپل پلار له شهادت څخه وروسته د ۱۲۹۸ ش کال د شوال په میاشت کې له هېواده بهر تلو ته اړ شو او د ۱۳۰۰ هـ.ق کال په شاو خوا کې بېرته هېواد ته راغی.

کله چې مولوي عبدالروف بېرته خپل هېواد ته راغی، نو د حضور ملا او د شاهي مدرسې د لومړي مدرس په توګه وټاکل شو. په دغه دربار کې به یې له بهرنیو اخبارونو او بهرنیو ژبو څخه خبرونه هم ترجمه کړل.

د کندهار د مشاهیرو لیکوال ولي زلمي لیکلي چې مولوي صاحب په عربي، فارسي، پښتو کې ادیب او لیکوال او شاعر و.

ده به د هغو ټولو عربي مجلو مهم موضوعات چې شاهي دربار ته راتلې ترجمه کول. د ده علمي تبحیر ته دوو پاچاهانو امیر عبدالرحمن او امیرحبیب الله خان په درنه سترګه کتل، کله چې پادشاهي امیر حبیب الله خان ته په میراث کې ورسېده، نو د حضور ملایي د شاهي مدرسې معلمي او د دربار فرهنګي ویاړ ده ته پاتې شو. د هېواد دغه علمي او فرهنګي شخصیت د یو شمېر نورو روښانفکرانو په مرسته د سراج الاخبار افغانستان په نوم یو انجمن جوړ کړ چې بیا همدغه انجمن د دغه مولوي په مشرۍ د سراج الاخبار افغانستان په نوم د یوې جریدې په تاسیس بریالی شو. دی د اوه شپېتو کلونو په عمر په کابل کې د ۱۳۳۳ هـ.ش د شوال په ۱٦ وفات شو، محمود طرزي په سراج الاخبار افغانستان کې ولیکل:

... به تمام افسوس و کمال یاس و حسرت با چشم اشکبار و قلم ماتم بار خبر کدورت اثر ضیاع ابدی عالم علامه و فاضل کامل فرزانه فضایل همراه علیجاه مولوی عبدالروف خان صاحب را درج صحایف غم و اندوه می نمایم. سراج الاخبار افغانیه به مولوی زاده گان ذی فضل و عرفان جناب مولوی عبدالواسع خان و مولوی عبدالروف خان فرزندان ارجمنان حضرت مرحوم مشارالیه عرض تعدیب تقدیم میکند.

مرحوم مولوي تر ۱۳ زیات کتابونه لیکلي دي، په عربي، فارسي او پښتو یې شعرونه ویلي، په یو نظم کې یې د هېواد پالنې روحیه داسې رانغښتلې ده.

افغان اگر فگند بر صلاح خویش
اول ببایدش که بگیرد سلاح خویش
گر اصطلاح وی طلب و عیش و عشرتست
فرض است آنکه محو کند اصطلاح خویش
این سر زمین خوش که بافغان چو مادرست
داند پسرانش بد گرها جناح خویش

د امیر شېر علي خان په وخت کې د شمس النهار له خپرېدو وروسته بیا در امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د کومې خپرونې پته نشته. البته په همدغه وخت کې او د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په دوران کې یوه لاس کښلې (قلمي) روزنامچه د دربار لپاره لیکل کېده. په ۱۳۰۹ - ۱۳۱۰ هـ.ش کلونو کېددې قلمي روزنامچې لیکونکی میرزا تاج محمد او په ۱۳۲۲ کې حافظ حیدرعلي اواری دی.

په دې توګه د شمس النهار له خپرېدو وروسته د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې یوه اته ویشت کلنه توره تیاره دوره راغلې ده چې له ۱۸۷۹م څخه یې تر ۱۹۰٦م پورې یعنې د سراج الاخبار افغانستان تر خپرېدو یې دوام کړی دی.

همدغه تیاره دوره د (سراج الاخبار افغانستان) تر خپرېدو پورې دوام کوي. مرحوم پوهاند حبیبي په ملي آرشیف کې د خوندي شویو اسنادو له مخې لیکلي چې د هېواد یو شمېر روښان فکران او پوهان د شاهي مدرسې مربوط او د حبیبي دارالعلوم مربوط د امیر حبیب الله خان دربار ته پیشنهاد وکړ چې د افغاني پوهانو یوه ټولنه دې جوړه شي او هغه دې د سراج الاخبار افغانستان په نوم یوه پنځلس ورځنۍ جریده خپره کړي. د دغه انجمن رئیس مولوي عبدالروف خان کندهاري تخلص په خاکي د شاهي مدرسې سر مدرس او د حضور ملا او مولوي محمد سرور واصف د مولوي احمد جان الکوزي متخلص په تاجر زوی یې د محررۍ منشي توب دنده لرله. د دغو روشنفکرانو عالي هدف همدغه د خلکو راویښول او له نوي مدنیت او د دنیا له نویو پېښو سره د هغغو اشنایي وه...

د سراج الاخبار د انجمن غړي دغه کسان وو:

۱. اېډېټر یعنې عنوان ګذار: مولوي عبدالروف خان.

۲. سب اېډېټر یعنې نایب عنوان ګذار: مولوي نجیب علي خان.

۳. محرر زیر دست اېډېټران: مولوي سرور خان.

٤. مهتمم او د اردو اخبارونو ترجمان، منشي حافظ حیدر علي خان.

۵. د اردو اخبارونو ترجمې، معاونان: عبدالرحمن بېک او عبدالرحیم بېک

٦. خوش نویس کاتبان: میرزا غلام قادر خان او میرزا محمد اسحق خان.

۷. مصحح: قاري نېک محمد خان.

سراج الاخبار د خپلې ټولنې څخه بهر هم همکاران او همفکران لرل. د دربار په یو یادداشت کې سپارښتنه شوې وه چې به محمود طرزي څخه چې هغه وخت نوی له شام څخه خپل هېواد ته راستون شوی و، د صحافت د چارو او د جریدې په مضامینو کې نظر وغوښتل شي (جنبش مشروطیت در افغانستان، ٦،۷ م،م).

د افغانستان د ژورنالیزم تاریخچې هغه پیشنهادونه را اخیستي دي چې د دغه انجمن له خوا د جریدې د ښه تنظیم لپاره یې وړاندې کړې وو چې دا دي:

۱. د اخبار نوم دې سراج الاخبار وي چې د اخبار په لومړي مخ دې په پنډو حرفونو لیکل کېږي.

۲. د مطالبو د اخیستلو لپاره دې په هغه اخبارونو سربېره چې اوس کابل ته راځي ځینې نور ضروري اخبارونه، مواد لکه نقشې، جغرافیې، د لغت کتابونه چې د اخبار لپاره لازم دي، د حضور له امر نه وروسته دې راغوښتل شي او د پېښور د اسلامیه داګخانې د سر رشته دار په نامه دې فرمان صادر شي چې کتابونه او اخبارونه ددې لیک له مخې واخلي او راوېې لېږي:

د ضرورت وړ عربي اخبارونه، الظاهر، نبراس، المشارقه و المغاربه، مستشار، د ضرورت وړ انګریزي اخبارونه، اسلامیه کالج نتلی لاهور، د لاهور د اسلامیه مطبعې چاپ او د ضرورت وړ ترکي اخبارونه، د اړتیا وړ اردو اخبارونه: بمبیي ګزت، دهلي ګزت، کرزن ګزت، نصرت الاخبار، مهر درخشان، اخبار سوداګر. په فارسي ژبه لویې او غنې نقشې، د ځمکې کره، براعظمونه، مراة الارض، د لاهور د اسلامیه مطبعې چاپ. په فارسي ژبه اطلس، د لاهور مفید عام طبع. د فارسي او عربي لغاتو کتابونه له هر ډول نه یې یو یو ټوک.

۳. دار السلطنة خبرونه دې د کوتوالۍ په وسیله خاص بیت الشورای ته ورسول شي او له هغې وروسته دې د جرګه ګۍ د غړیو په خوښه د خپرېدو وړ پېښې د اخبار مطبعې او کېدای شي دغه خبره د یو څه مهتمم د اخبار د مدیرانو په خوښه مضمونونه ترتیب او کاپي یې دې لیکونکیو کاتبانو ته وسپاري او تل دې دا کار په نظر کې نیسي، خو تر وسه وسه دې له اختلافي مسالو څخه ځان وساتل شي، څو د ټولو مسلمانانو تر منځ ورورولي ټینګه شي.

٤. هغه پېښې او مضمونونه چې عموماً په اخبار کې خپرېږي دا به وي:

- دیني مسئلې.
- استشهادونه چې وخت په وخت به د خلکو د هوسایۍ او نېکمرغۍ لپاره د دولت له خوا خپرېږي.
- خارجي خبرونه.
- د افغانستان پېښې.
- مقامي یعنې دارالسلطنه خبرونه.
- د غلې بیه او نور.
- د هېواد د بېلابېلو برخو د موسمونو حالات.
- شعرونه او ویناوې.
- د تجربه شویو داروګانو له نسخې او د روغتیا چارې.
- د تاجرانو اعلانونه.
- د «ذات مبارک سر کار والا» حالونه او حرکتونه لکه په جشنونو، رسمي دربارونو، د پوځونو کتلو او نورو وختونو کې د اخبار کچه دې په داسې ډول وي چې کاغذ ضایع نه شي او که د «حبل المتین» په اندازه وي ښه دی.
- په اول کې دې اخبار په میاشت کې یو ځل چاپ شي.
- اوس دې اخبار له اتو پاڼو څخه نه زیاتېږي او د اخبار د نسخو شمېر دې د دولت د منصبدارانو، ملکي او نظامي خدمتګارانو په شمېر وي او سل نسخې دې زیات خپور شي او د اخبار د چاپېدو ورځ دې چار شنبه وي.
- د اخبار د وېشلو چارې د ډاګ کارکونیکو ته وسپارلې کېږي او د ډاګخانې د پیاده ګانو شمېر د اړتیا له مخې زیاتېږي.
- که کورني او باندینې خبرونه او بېل بېل مضمونونه چې د اخبار له خپرېدو څخه مخکې مطبعې ته رارسېدلي وي، د اخبار ټاکلې پاڼې ډکې نه کړای شي پاتې مخونه په ځینو نادرو کتابونو ډکېږي، لکه تاریخ افغاني او نور چې لا تر اوسه نه دي خپاره شوي، او په اخبار کې به د عجیب او غریب کتابونه را نقل او لکه د کتاب غونډې به چاپېږي.

د اخبار لومړنۍ ګڼه د ۱۳۲۳ هـ.ش کال د ذی القعده په پینځلسمه (۱۹۰٦ م کال د جنوري په یوولسمه نېټه) په سنګي چاپ خپره شوه. (جنبش ۷ مخ).

**نور بیا...**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د استقلال سلمه کالیزه...

دا نه یوازې له تاریخ ناخبري ده، بلکې تاریخ د خپلو غوښتنو، خواهشاتو او ګټو تابع ګرځولو ګستاخي هم ده.
له همدې ځایه موږ د تاریخ پر هغو اړخونو تکیه کوو چې زموږ خوښه او ګټې پکې نغښتې وي، ځکه خو تاریخ د خپل سوچ، غوښتنو او فکر تابع ګورو، هغه پېښې- پرمختیاوې را اخلو چې تعبیر او استناد یې زموږ له مزاج او ګټو سره اړخ لګوي، که داسې نه وای، ولسمشر غني به دهمزنګ کې د نایب سالار عبدالوکیل خان نورستاني څلی او څلور لارې، د روښنایي غورځنګ د وژل شویو په نامه نه وای اعلان کړې؟
له صدارت د مرحوم میوندوال له استعفا وروسته نور احمد اعتمادي چې د مشر مجروح په خبره: «نه صحتش خوب بود، ونه پشت کار کافی داشت»، د پاچا لخوا د صدراعظَم په توګه نوماند کړای شو. ده په اسانۍ د باور رایه تر لاسه کړه، خو د پاچا له ملاتړ سره یې د ستونزو د اداري مخه ونشوای موندلی، هغه وو چې پاچا د ولسي جرګې رئیس ډاکتر عبدالظاهر د کابینې په جوړولو موظف کړ. له یوې خوا د پاچا ملاتړ او له بلې خوا جرګې د ریاست په موده کې له استازو سره تعامل ده ته د باور رایې تر لاسه کول اسانه کړل. ده په کابینه کې ډاکتر عبدالصمد حامد د صدارت مرستیال او محمد موسی شفیق د بهرنیو چارو وزیر وټاکه.
دغه وخت د هېواد په جنوب لوېدیز کې د وچکالۍ له امله سخته کختي را منځته شوې وه داسې خبرونه خوله پر خوله ګرځېدل چې ځینو کورنیو له مالي تنګسیا د خپلو بچیانو پلور ته مخه کړې ده، د بهرنیو چارو وزیر مرحوم شفیق د عاجلو مرستو را غونډولو په پار بهرنیو هېوادو ته بېړنی سفر وکړ، ډاکتر صمد حامد د پلاوي په مشرۍ د مرستو د وېش په موخه کاختي ځپلیو سیمو ته ولاړ.
حکومت په هغه کال په سرکاري کچه د استقلال جشن له نمانځې تېر شو او جشن ته پام کې نیولي لګښتونه یې د دولت له رسمي کود څخه له کاختي ځپلیو سیمو سره د مرستو هغه ته انتقال کړل، خو په ملي کچه د استقلال جشن په هماغه ملي جذبه او پراخه پیمانه ونمانځل شو، له لګښتونو پرته یې جشن له پخوا زیات ملي او سرتاسري کړ. کلي کلي او کور کور ته د نمانځې لړۍ وغځېدله، یو ځل بیا دغه حقیقت را د بره شو چې ولسونه له سیاستوالو هوښیار دي.
سره له دې چې هغه مهال د جشن د لګښتونو یوه برخه د نندارتونو او کورنیو مصنوعاتو او تولیداتو له پلور او د څارندویانو «زمرکو» له مرستو را ټولولو برابرېدله، خو بیا هم حکومت جشن ته ځانګړې کړې بودجه او پام له اړو هېوادوالو سره د مرستو پکېچ ته ور ټول کړ. پدې توګه په سرکاري کچه د ۱۳۵۰ لمریز کال د استقلال جشن د نمانځې مراسم تر سره نشول.
د استقلال د سلمې کالیزې ریښتینې نمانځنه دا ده چې له وړاندې د جشن سیمه له غاصبانو او مافیا څخه ژغورل شوې وای او دغسې سترې نمانځې خپل وړ چاپېریال یا بستر موندلی وای.
د استقلال او ازادۍ نمانځه دا ده چې خلکو ته امنیت، سوکالي، خوندیتوب، کار، درې وخته ډوډۍ او د ژوند لومړنۍ اسانتیاوې او اړتیاوې برابرې کړای شي.
موږ غواړو او دا مو هیله ده چې د استقلال سلمه کالیزه به درنو او پرتمینو مراسمو ونمانځل شي، خو لکه وړاندې مو چې یاده کړه لومړی ښایي د جشن سیمه او هورې د وزارتونو او دولتي ارګانونو دولتي ملکیتونه له زورواکیو او غاصبانو ژغورل شوې وای. دغه غصب چې یوه برخه یې همدغه زورواکیو او سرکار ته نژدې غټانو په څو ټنګو د اتیا سلو کالو په وده په ټېکه اخیستو د جشن سیمې بڼه، هیئت، هویت او ماهیت مسخه کړې دی.
د جشن پر سیمه سربېره پغمان کې د اماني دورې ملکیتونه، دولتي پارکونه، هوټلونه، اوه عامه بڼونه قومندانانو او زورواکیو په یوه بله بڼه او پلمه لاندې کړې چې د سلمې کالیزې له نمانځنې دمخه ښایي دغه غصب پای موندلی وای.
ارزښتونه باید سیاست ته استخدام نشي، دیني او ملي معتقدات ښایي د کمپاین پښو ته ټیت نکړای شي، څرنګه چې دین له سیاست لوړ او سپېڅلی دی، دغسې ملي ارزښتونه هم باید د واک سیالۍ او د اقتدار منډه نه وای ګرځېدلی.
وما علینا الا البلاغ



# د افغانۍ ملکې، ثریا له نظره د ښځو مقام

**ژباړه: علم ګل سحر**

دا د ملکې ثریا، د هغې مرکې متن دی چې ۸۲ کله د مخه یې له یوې فرانسوۍ ورځپاڼې سره کړې وه. اعلیحضرت غازي امان الله خان د ۱۳۰٦ ل کال، د لیندۍ له شلمې څخه د ۱۳۰۷ ل کال، د چنګاښ تر لسمې نېټې پورې ځینو اروپایي، اسیایي او افریقایي هېوادونو په یوه اووه میاشتني اوږد سفر ولاړ. سره له دې چې دا سفر د نړۍ پر مختللیو هېوادونو ته شوی و، خو د سفر په ټوله موده کې غازي امان الله او هم ملکې ثریا خپل نیم مخ په نازک ټیکري پټ کړی و او په ټولو مېلمستیاوو او غونډو کې یې خپل افغاني پړنی ایسته نه کړ. کله چې غازي امان الله له انګلستان څخه فرانسې ته ورسېد د «هوهنلو» د ورځپاڼې خبریال له ملکې ثریا څخه د لنډې مرکې هیله وکړه. دغه ورځپاڼه په پاریس کې خپرېدله چې دیني او مذهبي معلومات به یې خپرول. ملکې هریا دغه مرکه په خلاصه تندې او خوښۍ ومنله او په شلو دقیقو کې یې د خبریال پوښتنو ته ځوابونه وویل. په مرکه کې یوې ترکۍ مېرمنې په فرانسوي ژبه د ژباړې چارې پر غاړه لرلې. د دغې مرکې متن هغه وخت له کوټې څخه په خپرېدنکي اخبار، جبل المتین کې خپور شو. دا دی موږ یو ځل بیا د دغې مرکې پښتو ژباړه خپروو، و به وینو چې افغانۍ ملکې ثریا اتیا کاله د مخه د ښځو د ژوند په باب څه ډول نظر درلود.
په مینه پوښتنه: علیا حضرت ملکې! ایا ستاسې له نظره، په اسلام کې د ښځو حقوق خوندي دي، که نه؟
ځواب: زه ښځې ډاډه یمو چې په اسلام کې د ښځو حقونه خوندې دي، د لوېدیځې نړۍ پوهان مستشرقین او متخصصین ښه پوهېږي چې د اسلام لوړ حکمونه د اخلاقی روزنې په برخه کې ډېر ګټور ټکي لري، دا چې تر اوسه پورې په پوره ډول تعلیم اوتطبیق شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دی، بیله خبره ده. د لوېدیځ خلک فکر کوي چې ګني اسلام د ښځو پر حقوقو تېری کړی دی، په داسې حال کې چې دا خبره بېخي بې بنسټه ده، هر هغه چا چې د دیني او مذهبي علومو په برخه کې لږې څېړنې هم کړې وي، په دې مسئله پوهېږي. په هغه کچه چې د اسلام ځلانده لمر د ښځو نړۍ روښانه کړې ده. بل هېڅ دین او مذهب رڼا یې نه ده وربښلې، له یوه یا دوو حکومتونو پرته چې هغه هم د چاپېریال غوښتنه ده، نور په ټولو چارو کې ښځې له نارینه وو سره مساوي حقوق لري. هغه شخصي او اخلاقي روزنه چې په لوېدیځ کې ښځو تر لاسه کړې ده، د هغوی له مذهبي چارو سره هېڅ اړیکې نه لري، یوازې د ښځو غوښتنه ده چې دوی یې له تمدن څخه برخمنې کړې دي. که له دیني او مذهبي نظره څېړنې وشي، ښکاره ده چې په اسلام کې ښځې د نورو ادیانو او مذاهبو په پرتله له هره لحاظه ازادي لري او حقونه درلودونکي بولي، اسلام دی او بس. دا اسلام دی چې ښځو ته یې په سیاسي او اقتصادي ژوند کې ونډه ورکړې ده. ۱۳۴٦ کاله پخوا ښځو ته د بیعت په مسایلو کې چې اوس ټولټاکنې او د ټولو رایې اخیستل بلل کېږي، ښځو ته برخه ورکړل شوې وه، په داسې حال کې چې اروپایان اوس غواړي، ښځو ته د ټاکنې او رایې ورکولو حق ورکړي. له دومره زیات پرمختګ سره، سره تر اوسه ډېر اروپایي هېوادونه د ښځو دغه حق ته غاړه نه ده ایښې. البته دا ویلای شو چې د سمې او پوره زده کړې نشتوالی او د ځینو نیمچه دیني عالمانو کړو وړو د اسلامي نړۍ ښځې له خپلو حقوقو لیرې ساتلې دي او د نورو دینونو علماء هم دغه لیریوالی د خپلې بې خبرۍ په وجه د اسلام له احکامو سره په تړاو کې بولي. زه په دې سفر کې پوره شوم چې د لوېدیځې نړۍ ښځې د اسلام له ګټورو حکمونو څخه بې برخې پاته شوې دي، نو ځکه ما امر وکړ چې د اسلام او ښځو په نوم کتاب خپور شي چې دغه د بې خبرۍ ستونزه له منځه ولاړه او د لوېدیځې نړۍ ښځې د اسلام له ګټورو ارشاداتو څخه خبر شي. البته په دغه لنډه مرکه کې چې تاسې یې له ما سره کوئ، دغه نیګرتیا نه شي لیرې کېدای.

پوښتنه: علیا حضرت! د پړني او حجاب په اړه څه نظر لرئ؟

ځواب: داسې ډېر دودونه او رواجونه شته چې د وخت په تېرېدو سره د دین او مذهب برخه ګڼل شوي ده، دیني او مذهبي عالمانو هم د دیني اصولو په څېر د هغوی د پر ځای کولو ټینګار کړی دی چې دا ډول حکمونه په نورو مذهبونو کې هم شته . له دې څخه یوه هم په اسلام کې د حجاب مسئله ده چې دغه مسئله هم د دود او دستور له جملې څه ګڼل کېږي. هغه څوک چې د اسلام له احکامو څخه بې خبره دي، دا مسئله د اسلامي محکمې یو حکم بولي. مګر هغه کلیمه چې په اسلام کې د ستر او احجاب په باره کې ورته اشاره شوې ده، د تهذیب او اخلاقو له مخې ده، نه د تهدید او تحریم لپاره، بلکې دا قراني مقدس حکم د نارینه او ښځې تر منځ ګډ حکم دی، یانې د ښځو لپاره له مخ، لاسونو او پښو پرته ټول بدن ستر دی او د نارینه وو لپاره هم شرعي حد ټاکل شوی دی چې له نوم څخه تر زنګنو پورې سرت دی. نو ویلای شو چې د ښځې او نارینه لپاره د ستر حدود هغه حدودد دي چې د لمانځه او د کعبې شریفې د طواف پر وخت ټاکل شوي دي. د ستر او پردې مسئله یوازې په اسلام پورې اړه نلري. بلکې د نورو ادیانو په الهامي کتابونو کې ټاکلي حدود لري. که موږ وګورو دا اوسنۍ پرده او د ستر مسئله د اسلام له لومړنیو حکمونو سره په بشپړ ډول توپیر لري، لکه د مخه چې وویل شول، د یوې عنعنې او رواج شکل یې خپل کړی دی. د اسلام په لومړنیو پېړیو کې ښځې او نارینه یو ځای د جګړې ډګر ته تلل او د ټپیانو پر ټپونو به یې پټۍ ایښودلې. دا چې اوس عیسوي ښځې دا ډول روغتیایي خدمتونه سر ته رسوي، هغوی هم له اسلام څخه زده کړې دي، ځکه چې په تاریخ کې نه لیدل کېږي چې اسلام د مخه دې ښځو د جګړو په ډګر کې داسې دندې سر ته رسولې وي. په دې ډول به په لښکر کې ښځو نارینه دې ته هڅول او د ټېښتې او ناکامۍ په وخت کې به یې هغو ته پېغورونه ورکول چې دا ټولې داسې دندې دي چې له اوسنۍ پردې او ستر سره ډېر توپیر لري.

سربېره پر دې د حضرت محمد «ص» مېرمن، بي بي عایشه «رض» او د پیغمبر «ص» لور، حضرت بي بي فاطمه «رض» هغه روزل شوې او عالمې ښځې وې چې ډېر حدیثونه او روایتونه څنې را نقل شوي دي. هغه وخت ښځې تل له نارینه وو سره په چارو بوختې وې، په غونډو، د جومات په لمونځونو، د اختر د لمانځه په مراسمو، د حج په مراسمو، د رئیس او خلیفه د ټاکلو، غزاوو ته د تلو او رای اخیستلو په وخت کې ښځې له نارینه وو سره یو ځای وې. نو داسې څرګندېږي چې ستر او پرده د هماغو شرعي حدودو تابع ده، نه دا اوسنی عنعنې او دستور چې په ځینو مسلمانانو کې رواجي شکل پیدا کړی دی.

پوښتنه: آیا ویلای شئ چې پړوني او رواجي ستر په اسلرام کې له کومه ځایه او څه وخت باب شو؟

ځواب: تر هغغه ځایه چې په تاریخونو کې څرګنده ده، تر اسلام د مخه ستر، د ټولنې په لوړ و طبقو کې رواج و او هغه یې د شان او شوکت یوه نښه بلله. له څلور ګونو انجیلونو څه څرګندېږي چې د ابراهیم خیل الله «ع» پهع وخت کې هم ستر رواج درلود. د مصر د فرعونانو او د ایران د پاچاهانو په وخت کې داسې خلک هم وو چې له عامو خلکو څه د ځانونو د بېلولو، شان او شوکت د ساتلو لپاره یې له پګړۍ او څادرونو څخه کار اخیست.

کله چې یې دویم خلیفه حضرت عمر فاروق «رض» ته د عجمو جننګي اسیران راوستل، نو د ایزدګر له دوو لوڼو، شهربانو او د هغې له خور څخه پرته نورو ښځو پړوني نه درلودل، ځکه چې د ایزدګر لوڼې د لوړې طبقې ښځې وې او په دې ډول یېخپل شان او شوکت ساته. د چین او جاپان مکلو، ددې تر څنګ چې ځانونه یې د اسمان د لمر لوڼې بللې، ټول ژوند په پړوني او ستر کې تېر کړ. په اسلام کې د اوسني ستر رواج د بني عباس د خلیفه ګانو د واکمنۍ په وخت کې منځته راغلی ده. هغو په خپل دربار کې د عجمو دودونه او د ستورونه د اسلام له شرعي ستر سره ګډ کړل. په داسې حال کې چې د دوی له واکمنۍ سره جوخت په هماغه وخت کې اموي خلیفه ګانو په اندلس او قرطبه کې یوازې شرعي ستر درلود او ښځو هم په لوړو مدرسو او ښوونځیو کې زده کړې کولې او تر اوسه هم د عربو په هېوادونو، غربي نړۍ او ان په ټولو عربي هېوادونو کې د شرعي ستر هماغه حدود ساتل کېږي. که چېرې ستر واجب وي، پرېښودل یې باید حرام او ترک کوونکي ته یې باید جزا ورکړل شي په داسې حال کې چې د نړۍ زیاتره مسلمانان (د بشپړه ستر په مانا) ستر نه لري. د اسلام له پیل څخه تر اوسه پورې نه لیدل شوي او نه اورېدل شوي دي چې یوه ښځه دې د حجاب لیرې کولو له امله د جزا او عذاب وړ ګرځېدلې وي او دا هم نه ده لیدل شوې چې د حضرت محمد «ص» خلافای رااشدینو او یا اوسنیو واکمنانو پورې یوه پاچا، یا خلیفه دا خپله دنده ګرځولط وي چې کلیو او بانډو ته ولاړ شي او د خلکو د اوسېدنې په سیمو کې دې د ټیټې طبقې ښځې د ستر په ساتنه مجبورې کړي. په اوسني وخت کې ستر یوازې په ښارونو او هغه هم په لوړو او اشرافو طبقو کې رواج لري او په تبعیض او تخصیص د ځان لپاره ساتي، ځکه نو هېڅ وخت د نوکرو او خدمتګارو ښځو څخه د ستر غوښتنه نه کوي او پر خپلې بې ایمانۍ سترګې پټوي.

په اسلام کې باید د ستر مسئله د نورو خواوو په نظر کې نیولو سره وڅېړل شي او هغه دا چې ایا له لوېدیځوالو څخه د ختیځوالو تقلید ته په پام سره چې په چټکۍ سره روان دی، ممکنه ده، د ستر اوسنی رواج په ختیځ کې پاتې شي؟ په داسې حال کې چې له لوېدیځې نړۍ څخه د ختیځوالو تقلید دومره چټک دی چې په لږه موده کې به د هغوی له ټولو رواجونو او جامو څخه تقلید وشي.

د ستر په باب بله موضوع دا ده چې ایا اوسنی رواجي ستر د مسلمانانو او په ځانګړې ډول د ختیځې نړۍ د وروسته پاته والي لامل نه ګرځي؟ په دې کې شک نشته چې اوسنی رواجي ستر د ښځو د لوړو زده کړو خنډ دی او د بشري ټولنې دغه نیمه برخه له تمدن او پرمختګ څخه پاتې کېږي. په دې منظور ختیځوالو نیت کړی دی چې له بېکارۍ او فلج کېدو څخه د بدن، د دغې نیمایي برخې د ژغورلو لپاره رواجي عادت پرېږدي.

بې له شکه چې ښځې نه یوازې د قوم او ټولنې په پرمختګ کې برخه لري، بلکې د دغه پرمختګ بنسټ جوړوي. نو که د یوه ملت او ټولنې ښځې له لوړو زده کړو او د ورځې له مروجو علومو څخه بې برخې وي، څنګه کېدای شي چې هغه ټولنه او قوم له نورو ټولنو سره سیالي وکړي چې وایي د ښځو له دغه ستر سره، سره دې د هغوی پوهه هم لوړه شي. د لنډ او محدود نظر خاوندانو فکر یوازې تر لیکلو او لوستلو پورې رسېږي. په داسې حال کې تجربه او ټولنیزه روزنه د لوړې پوهې او د پوهنځیو د لوستلو په نتیجه کې په لاس راځي. باید ووایم چې د داسې پوهې او تجربې تر لاسه کول او په ټولنیزو چارو کې ګډون کول له رواجي پردې سره ممکن نه دی. که ختیځوال غواړي، له لویدیځوالو سره سیالي او رقابت وکړي، نو له نامطلوبو دودونو څخه دې ځان وژغوري، په خپله دې کار وکړي او له هغوی څخه دې تقلید نه کوي، یانې اوسني رواجونه، ستر او پرده دې ایسته کړي او هماغه شرعي ستر چې د لوی خدای او رسول اکرم حکم دی، پر ځای کړي. له مخ، پښو او لاسونو پر ته دې ټول وجود پټ ساتي او خپل ملي شعایر دې د مذهب له اصولو سره یو ځای کړي چې په دې توګه هم له اوسني پرمختګ څخه بې برخې نه شي او هم د ستر له خلاف د لوېدیځ تقلید به د ختیځې ټولنې د پرمختګ ستنې ډېرې ژر ورانې او له منځه یوسي. زه د دغه سفر پای ډېر روښانه ګورم او ویلای شم چې په اروپایي ټولنه کې د اسلام په نوم نه، بلکې په نورو ډولونو به د اسلام اصول ډېر دودونه او رواجونه ځای ونیسي او اروپایان به د خپل ژوند د تمدن لپاره له هغو څخه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## هېواد ګوند

## حزب هیواد

هېواد ګوند د خلکو د غوښتنو پر بنسټ د ټولنيز عدالت، د واکونو تر منځ د سياسي واک او ملي سرچينو عادلانه وېش، د ديني او ملي ارزښتونو ساتنه، ملي نواميسو، ځمکنۍ بشپړتيا، ملي ګټو او ملي حاکميت ته ژمن دی.

حزب هیواد متشکل ارادهٔ مردم مبتنی بر عدالت اجتماعی، توزیع عادلانهٔ قدرت سیاسی و منابع ملی میان مردم کشور، اعاده حقوق هموطنان عزیز، پاسداری از ارزشهای دینی و ملی، تمامیت ارضی، منافع ملی، حفظ نوامیس ملی و حاکمیت ملی.

**د هېواد ګوند دموجوديت اعلان غونډه د روان (۱۳۹۸هـ.ل) د زمري (اسد) مياشتې په دريمه نېټه تر سره شوه**

**جلسهٔ اعلان موجودیت حزب هیواد به تاریخ سوم ماه اسد سال روان (۱۳۹۸هـ.ش) برگزار گردید.**





**Email: hewad.party1397@gmail.com Mob: 0766479300/ 0780295300 Fb: Hewad Political Party هېواد ګوند**

ioglobal

خپلواکي مو مبارک شه

Internet Services Through Fiber Optic

Wireless Communication Solutions

Wired and Wireless Backbone Solutions

Data Center Engineering and Design

IT Infrastructure Solutions

Security Solutions

Storage Solutions

High-Availability Solutions

Software Solutions and Software Systems

Web-based Information Solutions

House No. 181, Mayoris Street on Sherpur Main Road, Kabul | Afghanistan
+93 (0) 20 22 131 21 - 4 | info@io-global.com | www.io-global.com | io-global

د خپلواکۍ سلمه کاليزه مو بختوره شه

ORZALA NATURALS اورځلا طبيعي


افغانی، طبیعی، گیاهی



Between Street 1 & 2, Taimani Main Road, Kabul, Afghanistan
Kart-e-4, Next to Allama Higher Education Institute | 0799143113

کارته چهار، د حوزې سړک، د علامه لوړو زده کړو موسسې تر څنګ

اوربند ستاسې د ټاکنيزو کمپاينونو تبليغات په وړيا بيه خپروي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**